بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

يکشنبه، 29 محرم، ۱۴۴۶هـ | ۲۰24/۰8/4م | ګڼه: ح.ت.افغ 2/۱۴۴۶

## مطبوعاتي اعلاميه

### د دوحې ترړون ته په پابندۍ سره که افغانستان له فلسطين سره پوله هم لرلای، څه شی یې نه شول کولی!

د ايسنا خبري شبکې د راپور له مخې د افغانستان د حکومت د رئيس الوزراء سياسي مرستيال، چې د ايران د نوي ولسمشر د لوړې مراسمو کې د ګډون په موخه يې تهران ته سفر کړی و، د فلسطين د قضيې په اړه څرګنده کړې چې: *«افغانستان د ايران له اسلامي جمهوريت سره د غزې د مظلومو خلکو ملاتړ کوي او که چېرې موږ له اشغالګر رژيم سره پوله لرلای، نو د غزې له مظلومو خلکو څخه په ملاتړ به جګړه کې ورګډېدلو».*

د رئيس الوزراء سياسي مرستيال داسې وخت دغه خبرې کوي چې د دوحې تړون او د ځينو غير شرعي افکارو شتون د افغانستان د حکومت لاسونه داسې د شا لخوا تړلي چې حتا که افغانستان د فلسطين پر څای هم وای، نه يې شو کولی چې د يهودي دولت پر وړاندې ګام پورته کړي. امريکا د دوحې په تړون کې د افغانستان له فعلي حکامو ژمنه اخيستې *«چې خپل هيڅ غړي او د القاعدې په ګډون نورو افرادو او ډلو ته به اجازه ور نه کړي چې د افغانستان له خاورې څخه د امريکا متحده اياالتو او د هغوی متحدينو ته د تهديد لپاره استفاده وکړي.»* امريکا په دغه تړون سره خپل متحدين له خطر څخه خوندي کړي دي او يهودي دولت د اسلامي خاورو په زړه کې د امريکا تر ټولو ستر ستراتژيک شريک او متحد دی.

پر دغه اساس، د دوحې تړون ته په پابندۍ سره که افغانستان له فلسطين سره پوله هم لرلای، نو د حاکمانو استدلال به يې د مصر او اردن د حاکمانو له استدلال سره توپير نه درلود. دغه هېوادونه چې د افغانستان په پرتله ډېره نظامي وړتيا لري، د فلسطين له خلکو سره د نصرت نه کولو لپاره پر خپلو اقتصادي مصلحتونو او سياسي هوکړه‌ليکونو استدلال کوي. مصر په ۱۹۷۸ کال کې له اسرائيلو سره کمپ ډيويډ د سولې معاهده لاسليک کړې او اردن په ۱۹۹۴ کال کې د *وادي عربه* تړون لاسليک کړی چې د هغو پر اساس يې تعهد کړی چې اسرائيلو ته به خطر متوجه نه شي.

يو بل مورد چې د اسلام د هر اړخيز تطبيق او مظلومانو د نصرت په لاره کې يې د افغانستان د حکومت لاسونه تړلي دي، د دغه نظام «پراګماټيک او اقتصادي محوره» سياست دی. په دغه سياست کې اسلامي ارزښتونه کمزوري کېږي او ملي ګټو او اقتصادي اړيکو ته لومړيتوب ورکول کېږي. اقتصاد محوري او شخصي او ملي ګټې دي چې له فلسطين سره هم‌سرحده هېوادونه يې د غزې له مسلمانانو سره خيانت ته اړايستلي دي. امريکا د اسرائيلو د امنيت د تأمين لپاره له مصر او اردن سره مالي مرسته کوي او لبنان او سوريه هم د ملي ګټو او اقتصاد محوره سياست پر بنسټ استدلال سره خپل خيانت ته دوام ورکوي. دا په داسې حال کې ده چې اسلام بهرنی سياست د دعوت او جهاد له لارې د اسلام حمل (لېږد) مقرر کړی دی.

هيڅ عذر د اسلامي خاورو حکام د فلسطين له مظلومو خلکو سره له نصرت څخه نه شي راګرځولی. که واقعاً له فلسطين سره پوله نه لرل له هغوی سره د مرستې نه کولو لپاره عذر وي، بايد پام وشي چې افغانستان له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره هم پوله لري، چېرې چې پر اسلامي شعائرو بنديز لګېدلی او مسلمانان د اسلام په خاطر په زندانونو کې اچول کېږي او شکنجه کېږي. حتا تاجک مسلماني خويندې چې د تاجکستان حکومت يې د حجاب پر ايسته کولو حکم کړی او هغوی د افغانستان لور ته د «وا معتصماه» په څېر ناري وهي! دغه راز له شرقي

ترکستان سره هم پوله لرو، هغه خاوره چې د کمونیست چین لخوا اشغال شوې ده او د یهودي دولت په څېر یې پر خلکو ظلم او تېری کوي. خو د افغانستان  حکومت وايي چې د «واحد چین» سیاست ته ژمن دی او د چینايي پلاوو تود هرکلی کوي.

پر دغه اساس، که د افغانستان حکام د تقوا لار خپله نه کړي او له ډیپلوماټیکو او تشو خبرو څخه لاس وا نه خلي، نو ډېر ژر به د نورو اسلامي خاورو د حکامو له کاروان سره یو ځای شي. د نورو حکامو د استدلال له اسلوب څخه ـ چې له خپلو خلکو سره خیانت کوي ـ باید ډډه وشي او د الله سبحانه و تعالی له مکر څخه باید ووېرېږو، ځکه چې الله تعالی تر ټولو غوره مکر کوونکی دی. باید پوه شو چې څرنګه چې د مظلومانو نصرت پر اهل قدرت فرض دی، دغه شان پرې د خلافت تأسیس هم فرض دی، د خلافت دولت به د ټینګې کلا په څېر د مسلمانانو له وینو او حریم څخه دفاع وکړي. نو د اهل قدرت شرعي مسوولیت دا دی چې، هر میثاق چې د الله سبحانه و تعالی له میثاق سره په ټکر کې دی، مات کړي او د دویم راشده خلافت د تأسیس لپاره ګام پورته کړي، تر څو الله سبحانه و تعالی د هغوی مرسته وکړي او قدمونه یې ټینګ کړي.

**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ** [محمد: ۷]

**ژباړه:** *اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی که د الله (دین) ته نصرت ورکړئ، هغه به ستاسو نصرت وکړي او ستاسو قدمونه به ټینګ او مستحکم کړي.*

## د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر